[پنځلسمه معلومات‌پاڼه]

## ګرونډ تروت سلوشنز سازمان او ادراکي سروې ګانې

**ګرونډ تروت سلوشنز (GTS) یو نړیوال نادولتي سازمان دی چې د ادراکي سروې ګانو له لارې له کړکېچ ځپلو خلکو څخه د فیډبک په راټولولو کې تخصص لري او له بشردوستانه سازمانونو سره په دې موخه ښکېلېږي ترڅو داډ ترلاسه کړي چې دا فیډبک په پام کې نیول کېږي.**

**ادراکي سروې له اغېزمنو شوو ټولنو او د مرستو له ترلاسه کوونکو کسانو سره د دوی له خوا د ترلاسه شوو مرستو په هلکله په منظمه توګه د فیډبک په پوښتلو او ترلاسه کولو کې مرسته کوي.** په ادراکي سروې کې احتمالي پوښتنې په لاندې ډول دي:

- آیا هغه مرسته چې تاسو یې ترلاسه کوئ ستاسو له اړتیاوو سره سمه ده؟
- آیا پوهېږئ چې څوک مرسته ترلاسه کوي او څوک یې نه ترلاسه کوي (د غوراوي معیارونه)؟
- آیا مرسته اړمنو کسانو ته رسېږي که نه؟ که چېرې مو ځواب نه وي، څوک له دې مرستو محروم پاتې دي؟
- آیا له مرستو محروم کسان پوهېږي چې څرنګه شکایت ثبت کړي؟ په راتلونکي کې غواړي د کومو چینلونو له لارې شکایت ثبت کړي؟
- آیا دوی داسې احساس کوي چې په درناوي چلند ورسره کېږي؟

اصلي نظر دا دی چې په منظمو زماني واټنونو کې له دوی څخه ورته پوښتنې وپوښتل شي ترڅو وکولای شو د درک د بدلون څرنګوالی تعقیب کړو. د ادراکي سروې د ترسره کولو تر ټولو مهمه برخه دا ده چې د سروې موندنې له اړوندو ښکېلو اړخونو (ټولنو، کارکوونکو، همکارانو/شریکانو، مالي مرسته کوونکو (ډونرانو او داسې نورو) سره شریکې شي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې فیډبک ته پاملرنه کېږي او مرستې د خلکو د فیډبک پر بنسټ چمتو کېږي.

**ګرونډ تروت سلوشنز د ادارکي سروې ګانو د ترسره کولو ترڅنګ دغه راز له سازمانو سره مرسته کوي ترڅو د فیډبک خپل میکانېزمونه د ادارکي سروې ګانو په بنه ډیزاین او پلي کړي.** ګرونډ تروت سلوشنز د فیډبک د سمو پوښتنو په جوړولو او په غوره توګه د ډېټا/معلوماتو د راټولولو د څرنګوالي په اړه په پرېکړو کې مرسته کوي. دغه راز ګرونډ تروت سلوشنز د معلوماتو د تحلیل، د موندنو د پوهاوي او د عمل پلان د جوړولو په برخه کې د سازمانونو ظرفیتونه لوړوي.

**ادراکي سروې ګانې د کووېډ-۱۹ په څېر په بېړنیو روغتیايي حالتونو کې د خطر پوهاوي او ټولنیز مشارکت پیاوړې وسیله ده.** د معلوماتو د چمتو کولو، په چارواکو باندې باور او د غبرګون، چلند او ذهنیت او اقتصادي اغېزې د اړوندو مسئلو په هکله په منظمو زماني فاصلو کې د اوسېدونکو د نظرونو راټولول دا تضمینوي چې روان غبرګون د کړکېچ ځپلو خلکو او له خطر سره د مخامخ ټولنو د لرلید پر بنسټ رامنځته او تنظیم کېږي چې په بېړنیو روغتیايي حالتونو کې دا کار ژوند ژغورونکی دی.

**ګرونډ تروت سلوشنز سازمان په افغانستان کې له ۲۰۱۶ کال راهیسې فعال دی** چې په د هېواد په کچه ادراکي سروې ګانې ترسره کوي او د یو شمېر ملي نادولتي سازمانو ملاتړ کوي ترڅو خپل د فیډبک میکانېزم ډیزاین او پلي کړي. دا مهال دا سازمان د روغتیا د نړیوال سازمان سره په ګډه د کووېډ-۱۹ په هکله ادارکي سروې ترسره کوي.

که چېرې سازمانونه لېوال وي، ګرونډ تروت سلوشنز سازمان کولای شي د ادراکي سروې ګانو د چمتو کولو په هکله ځانګړې جلسه تنظیم کړي.

د نورو معلوماتو لپاره له ایزابېلا سره اړیکه ونیسئ (isabella@groundtruthsolutions.org)